ښاغلی Diijon DaCosta, Sr.، د بورډ سرپرست
مېرمن Deirdre P. Pierce، مرستیاله سرپرسته
مېرمن Anna Hill
مېرمن Whitney McGinniss
مېرمن Allyson Gevertz
مېرمن Vickie B. Turner
ډاکټر Joyce Morley
ډاکټر Devon Q. Horton، آمر

DeKalb County School District

**د سمدستي خپرولو لپاره**

12 مارچ 2024

**اړیکه:**
Donald Porter, *Ed.D.* 678-481-4110
Carla Parker 404-734-1717

# د Cognia وروستی بیاکتنه د بورډ د اداري ښه والی او د دوامداره پرمختګ لپاره ژمنتیا په ګوته کوي

(STONE MOUNTAIN, GA) – د DeKalb کاونټي ښوونځي ولسوالی (*DCSD*) د Cognia څارني بیاکتني د وروستي راپور د مثبتو پایلو په اعلانولو د خوښی څرګندونه کوي. دا راپور په ډاګه کوي چې د ولسوالی مشرتابه د اداري معیارونو سره سم خپل رول او مسؤلیتونه ترسره کوي.

دا ارزونه چې د 2023 کال د نومبر له 1-3 پورې ترسره شوه د پخواني تایید ورکولو مسودې څخه د Cognia فعالیت معیار 1.5 ته د رسیدو او د 2022 کال د نومبر له 8-11 پورې د ترسره شوي څارني بیاکتنې له مخې د یاد معیار سره د سمون پیدا کوونکو لړونکو لارښوونو پر لور د DCSD پرمختګ ارزولو لپاره تاکل شوې وه. د ولسوالی مشرتابه په ښه شوي پرمختګونه ولمانځل.

"د DeKalb کاونټي ښوونځي د بورډ پرمختګ او کنټرول په اړه د COGNIA بیاکتنه د زده کوونکو د بریالیتوب پر لور د دوی د کلکي ژمنتیا یوه نښه ده. د DCSD آمر ډاکټر Devon Q. Horton وویل چې د دوامداره پرمختګ لپاره د ژمني سره دوی څرګنده بدلون رامنځته کوونکي یوه داسې تعلیمي تجربه رامنځته کړې چې زده کوونکي پیاوړي کوي ترڅو په اکادمیک، ټولنیز، او احساساتي توګه وده وکړي". د دوی بافکره مشرتابه او د همکارۍ چلند د تعلیمي غوره والي لپاره یو نوی معیار رامنځته کړی چې د دوی لپاره په ټول هیواد کې د ښوونځیو بورډونو له لارې یو ریښتینی الهام رامنځته کوي."

د Cognia د څارني بیاکتني راپور د بورډ د اداري معیار د درجه بندی په برخه کې "ښه والی" په ګوته کړی. یاد راپور په دقیقه توګه دا خبره په ګوته کړې چې "بورډ د ولسوالی د ګټو او په ځانګړي توګه د زده کوونکو د بریالیتوب لپاره په ګډه کار کولو باندې ډېر تمرکز کوي." په دې راپور کې ویل شوي چې "د بورډ غړو د خپل رول په اړه زیاته لیوالتیا درلوده او ډیری غړو یې د تاسیس شویو پالیسیو او طرزالعملونو سره سم چلیدو لپاره خورا لوی مسؤلیت په غاړه اخیستی."

د بورډ سرپرست ښاغلی Diijon DaCosta, Sr. وویل چې "د Cognia لخوا د دې وروستی بیاکتني د پایلو له امله د DeKalb کاونټي د پوهني بورډ د خوښی احساس کوي خو موږ پوهیږو چې لا ډیر کار باید ترسره شي". "د یو فوق العاده عامه ښوونځي ولسوالی د پیاوړتیا او دوام لپاره دا د دې بورډ د پام وړ هڅې نوری هم په ډاګه کوي. د DeKalb کاونټي د پوهني بورډ د بورډ د اداري د ښه کولو او زموږ د زده کوونکو د راتلونکي لپاره د اوسني پرمختګ هڅو ته د پیاوړتیا او دوام ورکولو لپاره په ګډه کار کولو ته ژمن دی."

-نور-

په دې راپور کې د 2023 کال د فبروري په میاشت کې د بورډ د ګوښه کیدنې یادونه شوې چیرې چې د بورډ غړو د 2022 کال د نومبر د میاشتې د راپور بیاکتنه وکړه او په راپور کې یې د پرمختګ موندنې او ساحې په ګوته کړې.

په دې راپور کې ویل شوي چې "د 2023 کال په فبروري کې د ګوښه کیدنې سربیره د بورډ غړو د 2023 کال د اپریل په 19مه د بورډ غونډې په منظم ډول ټاکل شوې سوداګریزې برخې په جریان کې د نومبر 2022 د نظارت بیاکتنې راپور له مخې د دې موندنو په اړه بیاکتنه او بحث وکړ." د غړو نظرونو زیاتره د موندنو سره مطابقت درلود او د دې خبرې ورانديز یې وکړ چې د اغېزمن او مؤثره عملیاتو ډاډمنولو لپاره دوی باید د 'بشپړ' بورډ په توګه لا زیات مسئولیت په غاړه واخلي."

د Cognia د خارجي بیاکتنې راپور DCSD وهڅولو چې لاندې ورکړل شوي "راتلونکي ګامونه" پلي کړي:

- د موندنو بیا کتنه وکړي او له شریکانو سره یې شریکې کړي.
- ډاډ ترلاسه کړي چې نوموړی بورډ په بشپړ ډول د مسلکي زده کړې غونډو څخه د بورډ د مؤثره اداري غوره کړنې پلي کوي.
- د بورډ غړو لاسي کتاب بیاکتنې ته دوام ورکړي.
- په منظمه توګه د پالیسیو او طرزالعملونو بیاکتنه او اصلاح وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ټول برحال او مناسب دي.
- د 30 جون 2027 څخه دمخه په عادي توګه د دې تاییدی تعهد بیاکتنې کوربه توب وکړي څکه چې ولسوالی د Cognia د فعالیت معیار 1.5 لپاره توقعات پوره کړي دي.

Cognia تر 30 جون 2027 پورې DCSD په بشپړ ډول تاییدوي. Cognia™ یوه غیر انتفاعي او غیر دولتي موسسه ده چې ابتدایي او ثانوي ښوونځي په رسمي توګه تاییدوي په داسې حال کې چې په نږدې 80 هیوادونو کې د 25 ملیونه زده کوونکو او 1 ملیون ښوونکو سره له 36,000 څخه زیاتو موسسو ته خدمت وړاندې کوي.

د DCSD لپاره د Cognia د خارجي بیاکتنې بشپړ راپور د ولسوالۍ په ویب پاڼه کې دلته شتون لري.

XXX

Robert R. Freeman اداري تولګه
1701 Mountain Industrial Blvd. | Stone Mountain, GA 30083
678.676.1200 | www.dekalbschoolsga.org